آصف بهاند ٢٠١٧/٠١/١٧

# لارورکي لارويان

## اتلسمه برخه

### په ماسکو کې د افغانانو فرهنګي هڅې

### استاد يار محمد، ماسکو او فرهنګيان:

د افغانستان د راديو، تلويزيون وتلی او منلی سندرغاړی يار محمد هم د نورو فرهنګيانو په څير د لارورکو لارويانو په قدمونو، قدم کيښود، په ورکو لارو سرشو او د يو نامالوم آدرس په تمه ماسکو ته را رسيدلی و.
يارمحمد په افغانستان کې د ځانګړي سبک او نامه خاوند سندرغاړی و. يارمحمد د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي انګليسي څانګه پای ته رسولې ده او موسيقي يې په مسلکي ډول له هندي استاد، ډاکتر وسنتر اوديش پانډې څخه، چې په رسمي ماموريت کابل ته راغلی و، زده کړې ده. د ده غږ له کابل نه په وتلو سره ټپ نه شو، په پيښور کې هم لکه بلبل د خپلو خلکو او وطن په ياد وچغيد، وتليد او بيا ماسکو ته ورسيد.
يارمحمد ماسکو ته په رسيدو سره له داسې يو ګونګي چاپيريال سره مخامخ شو، لکه هديره. نه کومه سندره، نه کوم سازي، نه کوم سندرمار، نه کوم اوريدونکی او نه کوم...
تر څو چې د١٩٩٥ م کال د مارچ په شلمه د نوي هجري شمسي کال د را رسيدو په وياړ د غلام حسن شور، نظيف الله تکل، عبدالبصير او آصف بهاند په نوښت او کوربه توب، د نوی کال د لمانځلو د محفل پريکړه وشوه او په دې محفل کې د يار محمد د ګډون مسآله په جدي ډول طرحه شوه.
استاد يار محمد هم دا بلنه په ورين تندي ومنله او په ياد محفل کې يې د ګډون له پاره پوره تياری ونوده.
ټاکلي ورځ را ورسيده او د محفل کوربانه په دې هم برياني شول چې په دې پلمه ځو تنه فرهنګيان هم را وبلي او د محفل په ترڅ کې يوه مشاعره ګی هم جوړه کړي.
محفل مابنام محال پيل شو. د غونډې مشري لطيف لالا کوله. محفل په ټوکوټکالو پيل شو او لالا د همدې ټوکو او خنداوو په ترڅ کې و ويل:
«نن يوه ورځ ده، د نوي کال د پيليدو شيبه او ورځ. دلته دغه احساس چې دا طبيعت يې موږ ته را کوي، موږ نه شو کولای هغه (نوي ورځ) احساس کړو. ډير کسان شته چې اوس موږ سره نه شته...
په هر حال موږ بايد ستړي نه شو، ستومانه نه شو، يو بيت دی د خوشال:

> ګوره څنګه بادشاهي لکه خورشيد کړم
> يک تنها په جهان ګرځم لښکر نــه شته

د نوي کال په مناسبت به په خپله ننني مشاعره پيل وکړو او ټولو هغو دوستانو ته به چې نن د جګړې، در په درۍ، بې وطنۍ، له جهان نه يتيم شوي، له خپل وطن نه ورک شوي او بيګانه شوي او نه شي کولای په خپل کور کې کيني؛ خو په هر حال، طبيعت دا ايجاب کوي چې هغو ته و وايو:
نوی کال مو مبارک شه!
ما ته د استاد خليلي يو بيت را يادېږي، له بده مرغه چې هغه به دا بيت د يو چا په باب ويلی وي:

> ګويد به نوروز که امسال نه آيد
> بر کشورغم ديده ما در نه ګشايد

او بل زموږ حالت اوس داسې دی چې زموږ يوې معاصرې شاعرې چې هغه هم اوس مهاجره ده او په ماسکو کې اوسيږي، ډير ښه تصوير کړی دی، چې وايي:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ترا با تیر و با تذویر کـشتند
مرا با طا قت تحقیر کـشتند
تـرا در چشم انجم گور کردند
مرا در خشم مردم گورکردند

او غواړم د خوشال خان یو ځو بیتونه تاسو ته ولولـم چې کیدای شي ده دا بیتونه، په هغه مهاجرت کې ویلي وي، چې چا په زور مهاجرت ته اړ ایستلی وي او له پښتونخوا نه یې لرې، لرې سیمو یعني هندوستان ته بیولی او زنداني کړی وي:

زمـا نې لــه ښو یــارانو نه مهجور کــړم

څـه بلا یـــي مبتلا پــه دې ضرور کړم

عــجب مار مې جار وتلی تر دوو پښو دی

مـګر لوی پاړو پیدا شي چې یې دور کړم

پا ړوګا ن د پیښور وا ړه نـا قص شـــول

دایـم هند لـره روان یم کــه یې دور کـړم

نوره واړه پښــتونــخوا په ځــا ن میشته ده

خو یو زه دې زماني په کې منصورکــــړم

په خپـل آه مې باور شته ا ثر به وکـــــا

رقیبـا ن بــه ا ورلـړوني د تنــو ر کــړ م»

د خبرو او شعرونو په منځ کې به یارمحمد استاد ښې په مزه غاړې کولې. په محفل کې ګنو فرهنګیانو خپل شعرونه او خاطرات د خوښۍ په فضا کې واورول. دلته ما د دې لیکنې د لا رنګینۍ له پاره، له ټولې مشاعرې څخه د احمد تکل یو ټوټه شعر انتخاب کړی دی:

«هو زه په خپله یمه:

تر بوړبوکو نه سر ګرځنی

تر بادو نه ستړی

تر تورې تړی

تر چړې نه وړی

تر داره موړ

تر سلاخی نه خړوب،

آ

ځوک نارې راوهي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

## په خپله یمه

### احمد یم.»

موږ چې له جګړې او مهاجرت نه ښه ستړي او ښه تږي وو؛ د هنرتږي، د سندرو تږي او د یارجان تږي. یار محمد استاد چې دا وخت په څلورو ژبو (پښتو،دري، اردو، انګلیسي) سندرې ویلاي شوې؛ د هیڅ چا فرمایش ته یې نه، و نه ویلې. داسې مستې سندرې یې و ویلې چې ښوک یې وژړول او ښوک یې داسې مستان کړل چې په نڅا، نڅا یې ځانونه ستړي کړل. د نوي کال په دې محفل کې یار محمد استاد داسې وځلید چې هر زړه ته یې لار وموندہ او له هر یوه سره یار شو.

دغه راز په ماسکو کې یار محمد استاد د ګڼ شمیر افغانانو د خوښیو محافل په خپل ګډون سره رنګین کړي دي، خو دا د ځانګړې یادونې وړ ده چې استاد یارمحمد د افغانستان د فرهنګ ټولنې په ټولو هغو محفلونو کې چې دی رابلل شوی دی، په وړیا ډول او ورین تندي یې ګډون کړی دی.

دغه راز زه له ده نه د زړه له کومې مننه کوم چې زموږ د ستړو زړونو د خوشحالولو په خاطر یې، زموږ په شخصي محافلو، کلیزو او مشاعرو کې په صادقانه توګه ګډون کړی دی. یارمحمد استاد دومره بې کبره و، چې کله، کله به یې یوازې دوو یا دریو تنو ته هم سندرې ویلې.

زه له خپلې کورنۍ سره په یوه لیلیه کې اوسیدم د هجرت په یوه تیاره ماښام کې زما ورور احمد شاه جان زموږ کور ته راغی له څه زړه خوالې نه وروسته یې و ویل چې زړه مې تنګ و،هسې ستاسو خوا ته را پیښ شوم، ما ورته و ویل ښه ګه دې خوښه ده چې یارجان ته زنګ و وهو چې راشي، لږ ټنګ ټکور به جوړ کړو، ده ویل سمه ده .یار جان ته مو زنګ و واهه، هغه ومنله او وې ویل چې حلیم به د تبلې له پاره را وغواړو.

دوی باید د میترو په سورلۍ یو ساعت وروسته را رسیدلي وای، مګر دوی دوه ساعته وروسته را ورسیدل، د نا وخته را رسیدو پوښتنه مو وکړه، یارجان په خندا و ویل:

بله خبره نه وه، پولیسو په میترو کې د اسنادو پوښتنه وکړه، د ملل متحد کارتونه مو ور وښودل. پولیسو له تمسخرنه د ډکې خندا په ترخ کې وپوښتلو چې په دې بیکونو کې څه شی دي، ما ور ته و ویل:

موږ هنرمندان یو او په دې بیکونو کې د موسیقي آلات دي، پولیسو و ویل تاسو یې وغږوئ چې څه ډول آلات دي، کله چې موږ د موسیقي د آلاتو په غږولو پیل وکړ، پولیس له خندا شنه وو او لارویانو په موږ باندې د سوالګرو خیال وکړ او زموږ مخې ته یې پیسې اچولې.

د ټنګ ټکور په محافلو کې به یارجان د هر چا له ذوق او فرمایش سره سمې سندرې ویلې، خو یوه سندره به په هر محفل کې په ده باندې بیا، بیا ویل کیده او هغه د هر مهاجر د تنګ زړه آواز ګڼل کیده. د هغو تنګو زړونو آواز چې د مهاجرت له چاپیرېال او نا خوالو نه یې زړونه په چاودون راغلي وو. د دې سندرې شعر د هغو کسانو له پاره ښه ځواب دی چې فکر کوي چې ماسکو ته رسیدلي خلک د هوس له مخې ځانونه ماسکو ته رسولي دي. د دې سندرې شعر د ښاغلي شیر محمد بهیر اسماري دی او کمپوز یې یارمحمد استاد ورته جوړکړی دی او ډیر ځلې به زموږ ماشومانو د کورس په ډول ور سره وایله، هغه شعردادی:

سرې لمبې مې خوښې دي، خو مړه خوړلن ته نه راځم
دا ځلې کــه لاړم بیــا بــه دې وطــن تـــه نــه راځم

ستــړي نصیب راوستم، چې راغلم په کې ښکیل شومــه
نــور بــه دې خیــشت شــوي د ځلیښتو ډنډ تـه نه راځم

هلتــه بــه د خپل وطــن ځــوزان او ازغـي ښکل کړمه
خیال کــې بـه هم هیڅ وخـت د پـردوګلشن ته نه راځــم

دا تــرخـه یــادونـه کــه پــه یــاد کــې زمــا پاتــې وي
زه بــه د مــاسکو د ښــارهــم تش دیــدن تــه نــه راځــم

دا ځــای کــه ختــن او هــره ونــه یــې د مشــکو شـــې
زړه مــې ور نــه تــور دی لا بــه دې ختن تــه نــه راځـــم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دا وار دی مسـکـوه رب بـهـیـر در ځنـي وژغـــوري
بیـا بـه ستا نـا پـاکي آلـوده لـمـن تـه نـه راځـم

یوه بله سندره هم وه چي یارجان به په ډیر خوند سره ویله. د سندري شعر د ګران شاعر فاروق شاه شعرو، زما په شخصي آرشیف کي یي د یارجان په خواړه غږ ویل شوي ښکلي کاپي موجوده ده، خو له بده مرغه چي د دي کربښو د لیکلو په وخت کي مي پیدا نه شوه کړاي؛ خو دغه دوه بیتونه مي یي له هماغه وخته تر اوسه په یاد دي:

تا چي زما په سر رقیـب سره خنـدا ویشـلـه

مـا مـي د زړه په قلـمرو کي هم ژړا ویشـلـه

اوس یي که وایم که نه وایم، ټول عالم یي وایي

هـر چا د دي وطـن پر سر باندي بـلا ویشله

له کاروان سره یو مابنام:

زه د وطـن دمهاجرو کاروان
هم له ملا هم له الحاده راغلم

د ۱۹۹۸م کال د پیل په شپو ورځو کي یو شمیر فرهنګیانو وپتیله چي د پیاوړي شاعر پیرمحمد کاروان د«چنار خبري کوي» د شعري مجموعي د چاپ په ویاړ، د کتاب د مخکاته محفل جوړ کړي. نو هماغه و، چي دا محفل د ۱۹۹۸م کال د جنوری په یو دیرشمه نیټه جوړ شو. د محفل په جریان کي د کاروان صاحب د ادبي شخصیت او شعري هنر په باب خبري کیدي، له کاروان سره اړوند خاطرات ویل کیدل او له ټولو نه ښه برخه په دې رنګین محفل کي بیا هم د یارمحمد ګډون و چي په خپل ښکلي غږ یي د کاروان له شعرونو سره یو ځای خپل هنر د حاضرینو د زړونو د ټکور له پاره نذرانه کاوه. یارجان په دي محفل کي دا نوښت کړی و چي د کاروان صاحب شعرونه یي په ډیر ښکلي ډول کمپوز کړي وو.
د دي محفل مشري بیا هم لطیف لالا ته ور له غاړي وه. ده د محفل په پیل کي و ویل:
د افغانستان د پیاوړي او نامتو شاعر ښاغلي پیر محمد کاروان د «چنارخبري کوي» د کتاب د مخکاته په مناسبت مو وغوښتل یوه مشاعره جوړه کړو. ټول هغه شاعران چي له ملي یووالي او فرهنګ سره مینه لري په دې مشاعره کي به ګډون وکړي...
دا محفل د کاروان په دغه بیت پیل کوم:

چـي بـادشاه به یي د شعر سلام ته راشي
د کاروان په زړه کي داسي سندر مار دی

بیا لالا د خپلي هغي مقالي یوه برخه واوروله چي د کاروان او د هغه د شعري هنر په باب یي لیکلي او په ماسکو کي چاپیدونکي مهاجر ژوندون مجلي د ۱۹۹۶م کال د جولای په ګڼه چاپ کړي وه. د دی مقالي په پیل کي راغلي دي:
«...ګران نا آشنا، آشنا ته سلامونه! هیله لرم چي د ژوند هره شیبه دي د خپل شعر په شان د هستی له مستو ښېونه ډکه وي.
زه کاروان صاحب له نږدي نه پیژنم، ما کاروان صاحب نه دی لیدلی... د ۱۹۹۳م کال د جولای لسمه ورځ وه چي زموږ ګران دوست، دانشمند ورور زرین انځور ماسکو ته را ورسید او څو ورځي وروسته یي ما ته د کاروان صاحب د شاعری په باب څه و ویل او په یوه مابنام کي یي دهغه «له مابنامه تر مابنامه» مجموعه د لوستلو له پاره را کړه...
بیا مي د چا په لاس کي د خوشال د فرهنګي ټولني نشراتي ارګان«شمشاد» مجله ولیده (دریم کال، لومړی ګڼه،۹۳ کال اپریل ـ سپتمبر) په هغي کي د کاروان صاحب د «تبسم لاس» په نامه یوه غزله چاپ شوي وه، ما دا شعر په وار، وار سره ولوستلو، بیا مي ولوستلو، بیا مي پاني واړولي او بیا مي ولوستلو او و مي ویل:
زما همزبو مبارک مو شه!
هیڅ مي هغه وخت نه هیریږي چي ومي لوستل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

## سور د روح په وینو د کاروان غزل
## تــه وا د کا بل د پیغلي مــرى دى»

تر ټولو جالبه دا وه چي مشاعره د کاروان په خپل شعر چي ده خپله دکلمې کړی و، پیل شوه او ټولو حاضرینو د تلویزیون له لارې د کاروان دکلمه ولیده او واوریده او بیا هم لالا د خپلي مقالي یوه برخه واورولـه چي کاروان ته په خطاب کي داسي ویل شوي دي:

«... زموږ د زماني شاعره!
د پښتني شعر کاروانه!
راځه چي د زړه له کومي در ته و وایم، تاسي یو شاعر یاست. د یوه شاعر په توګه ستاسو بې ساري او را خوتیدونکي چینه له نور او رڼا څخه سر چینه اخلي، ستاسو په شعر کي د یوه شاعر خبره، بادونه د آذانونو په څای ناري وهي، دا آزانونه خلک نه عقیدې ته، بلکي مینې ته، ګډې بشري مینې ته ور بولي، اوریدونکي لمانځني ته ور بولي. ستا شعر، ستا د شعر آواز زما په وران شوي وطن کي هغي سهارنی وږمې ته ورته دی چي سوځیدلي باغ کي لګي، یا لکه هغي شمعي ته چي هدیرو کي سوځي. ښایي ستا شعر د نیکمرغی د شنو باغونو هغه را غوړیدونکي غوټۍ وي، چي ګل دبنمنه تل ورته لور په لاس ولاړدی...»
د محفل په لړ کي یارجان د کاروان د شعرونو تر څنګ، د الفت صاحب او غني خان یو، یو شعرهم کمپوز کړی و چي په خواږه غږ او لوړ انداز سره یې واورول. د الفت صاحب د کمپوزشوي شعر لومړی بیت داسي دی:

اور بل یي ما په خوب کي پریشان لیدلی دی
رقـیبه د تــا بخــت مي دغه شان لیــدلی دی

او د غني خان د کمپوز شوي شعر لومړنی بیت دا دی:

زه یم ناست څان له جانان یم، تصور کي جوړومه
کــله یي سترګي تــورومه، کله یي شونډې ښکلومه

یارمحمد استاد د کاروان صاحب ډیرو شعرونو ته د موسیقي جامې ور اغوستي وې، خو دوه شعرونه یي له موسیقي سره یو څای داسي د زړونو ټکور شول چي فی المجلس یي له یارجان څخه څو ځلي د بیا ویلو هیله وشوه. د هغو دوو شعرونو د سر بیتونه دا دي:

راشه د رحمت بارانه، ښار اخیستی اور دی
ژوند لــکه د کلي، د چنــار اخیستی اور دی

******

خوب مي شه په سترګو کي تعبیر مــــي شه
ر ا شــه چي مرید دې شـــمه پیر مي شه

په مشاعره کي ګڼ شمیر شاعرانو خپل شعرونه او خاطرات واورول، ما د هغو ټولو له ډلي نه یوازي د ممتاز ارمان شعر څکه انتخاب کړ چي د افغانستان او افغانانو پر حالت ډیر ښه صدق کوي:

چي چنګیز ور ته د خپل جومات امام شي
شني لوخړې یي جنډ ې څکه د بــــا م شي

چي فتنه یي د قسمت په ملک د یـــره شي
څه به ښاد او څه خپلواک به هغه قــام شي

د حسرت د یوي مو زړو نو کي بلیـــږ ي
که نه دلته خو مــابنام کي یو مــا ښـــا م شي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولـئ

خــه چي وي هغه جلا د يــوړي با دا ر ته
ګټل کــلـه بې شــملو د ننګ ا و نــا م شي

چي هـــــر خه په لمبو و سوځي پاخه شي
دا وطن چي ځومره سوځي هومره خام شي

چي سا قي ور نه په ليو كــر كــي و يشي
آخــر ما ت به د ې جمشيد ه دغــه جام شي

له تـوبــو چي د ې توبه وكــړه زا هـــد ه
را تــه و وا يــه چــي خه بــه مو ا نجام شي

هر ارمـــان چي په خاپوړو شي ارمــان دی
يا منصور شي، يا مجنون شي، يا بـد نام شي

زه په ماسکو کې د يارمحمد استاد هنري فعاليتونه ډير بريالي ارزوم، هغه هنري فعاليتونه چي ده په ماسکوکي کړي دي،د ده د هنر يو زرين ځپرکی جوړوي او هغه نه هيريدونکي دي. د يارجان د هنري فعاليتونو ډيری برخه زما په شخصي ويديويي آرشيف کې خوندي ده.

«هغه چا ته چي هوډ وکړي، هيڅ شی ناشوني نه دي»

(مونوره ګابريل مورابو)

د اتلسمي برخي پای